# اسانه مالي محاسبه

# Easy Financial Accounting

ليکونکی: رفيع الله سهر

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

د محاسبې پېژندنه او تاریخچه ............................................................................................ 1
د محاسبې تعریفونه ............................................................................................ 2
د محاسبې موخې او دندې............................................................................................ 2
د محاسبې مینوال............................................................................................ 2
د کتاب ساتنې (Book Keeping) پېژندنه او تعریفونه............................................................................................ 3
مالي راکړې ورکړې ............................................................................................ 3
کاروبار او د هغې ډولونه............................................................................................3
د یواځینی ملکیت کاروبار (Sole Proprietorship)............................................................................................4
د شراکت کاروبار (Partnership)............................................................................................4
سهامي شرکت (Corporation)............................................................................................5
د مالي راپورونو عناصر............................................................................................6
د محاسبې مساوات............................................................................................7
د محاسبې د مساواتو مثالونه............................................................................................7
د ډیبیټ او کریډیټ مفهوم او د هغې اړونده قواعد............................................................................................14
د ژورنال (Journal) پېژندنه............................................................................................17
په ژورنال کې د مالي راکړو ورکړو د ثبت کولو طریقه............................................................................................19
د ژورنال مثالونه............................................................................................20
د لیجر پېژندنه او د هغې د جوړولو طریقه............................................................................................27
د لیجر مثالونه............................................................................................31
د ازمایښتي بیلانس (Trial Balance) پېژندنه............................................................................................37
د ازمایښتي بیلانس (Trial Balance) د جوړولو طریقه............................................................................................38
د ازمایښتي بیلانس مثال............................................................................................40
د Final Accounts پېژندنه............................................................................................41
د ګټې او تاوان راپور (Income Statement) پېژندنه............................................................................................41
د Income Statement د جوړولو طریقه............................................................................................41

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Income Statement مثال.......................................................................................43
د بیلانس شیټ (Balance Sheet) پېژندنه ........................................................................43
د بیلانس شیټ د جوړولو طریقه ...................................................................................44
د بیلانس شیټ مثال ....................................................................................................45
د نغدې جریان راپور (Cash Flow Statement) پېژندنه او د هغې برخې .....................................46
د نغدې جریان د راپور اهداف........................................................................................47
د نغدې جریان د راپور د جوړولو طریقه............................................................................47
د نغدې جریان د راپور مثال..........................................................................................48
د Stockholder's Equity د راپور پېژندنه........................................................................50
د Stockholder's Equity راپور د جوړولو طریقه او مثال.....................................................51
مالي سندونه او د هغې ډولونه.......................................................................................52
د نغدې کتاب (Cash Book) پېژندنه او د هغې ډولونه..........................................................54
د Single Column Cash Book پېژندنه..........................................................................55
د Single Column Cash Book مثالونه..........................................................................56
د Single Column Cash Book لپاره د لیجر حسابونو جوړول...............................................58
د Double Column Cash Book پېژندنه..........................................................................61
په Double Column Cash Book کې د مالي راکړو ورکړو د ثبت کولو طریقه...........................62
د Double Column Cash Book مثال ..........................................................................64
د Double Column Cash Book ته د لیجر حسابونو جوړول ...................................................65
د Three Column Cash Book پېژندنه ..........................................................................69
په Three Column Cash Book کې د مالي راکړو ورکړو د ثبت کولو طریقه ...........................69
د Three Column Cash Book مثال ............................................................................70
مأخذونه ...................................................................................................................72

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

مالي محاسبه د اقتصاد پوهنځي یو تخصصي مضمون دی چې په دوه سمسترونو کې تدریس کیږي، مالي محاسبه څلور اساسي راپورونه لري چې د یو ځانګړي سایکل پواسطه په اووه مرحلو کې تدریس او تشریح کیږي. یاد مضمون د ټولو دولتي او خصوصي اداراتو لپاره د مالي سیستم ټول محاسبات سرته رسوي ترڅو د اداراتو ستونزې پرې حل شي. دا کتاب **اسانه مالي محاسبه** چې د محاسبې د نوي زده کوونکو لپاره په آسانه بڼه لیکل شوی زده کوونکي کولای شي چې د استاد له رهنمایي څخه پرته هم ترې ګټه پورته کړي. د مالي محاسبې د زده کړې په اساس مونږ کولای شو چې د محاسبې نور ډولونه لکه د مصارفو محاسبه یا مدیریتي محاسبه او نور اړونده موضوعات په آسانه ډول زده کړو او په خپل ژوند کې ترې مثبته ګټه واخلو. مالي محاسبه زده کړئ او په مرسته یې خپلې چارې په سمه توګه سرته ورسوئ.

په دې کتاب کې که له ما څخه کومه غلطي شوې وي نو مخکې له مخکې بښنه راته وکړئ او د لاندې بریښنا لیک او واتساپ له لارې یې راته په ګوته کړئ ترڅو اصلاح یې کړم. دا به ستاسې لطف وي.

**په درنښت**

**رفیع الله سهر**

**(د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي محصل)**

Rafisahar11@gmail.com

**+93788751176**

## ډالۍ

زما د ژوند سترو هستیو **(ګران پلار جان او خوږې مورجانې)** ته او د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي محترم استاد **پوهنمل عنایت الله حبیبي صیب** ته چې ما ورڅخه مالي محاسبه زده کړې او زما په روزنه کې یې مهمه ونډه اخیستې او بلآخره ټولو هغه هیوادوالو ته دې ډالۍ وي چې د محاسبې سره مینه لري او دا کتاب په مینه مطالعه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محاسبې پیژندنه

هر کاروبار مالي سرچینو (Financial resources) ته اړتیا لري او د هر کاروبار مالي راکړه ورکړه (Financial Transaction) محاسبې ته اړتیا لري. محاسبه د یو کاروبار د مالي سرچینو په اړه دقیق معلومات وړاندې کوي نو ځکه محاسبې ته د کاروبار ژبه هم ویل کیږي. دا چې د هرې ژبې اساسي دنده د نورو سره د معلوماتو شریکول دي نو په کاروباري معاملاتو کې دغه دنده محاسبه ترسره کوي.

کاروبارونه خپل مالي معلومات (Financial information) ددې لپاره تنظیموي ترڅو وپوهیږي چې کاروبار په یو ټاکلي دوره کې څومره تولیدات پلورلي او په پلورل شویو تولیداتو یې څومره لګښت (Expense) راغلی، کاروبار ګټه کړې که تاوان، د کاروبار مالي حالت ښه شوی او که نه، کاروبار څومره نغده پیسې (Cash) د فعالیتونو په مقابل کې ترلاسه کړې او کاروبار څومره پیسې په بانک کې لري. دا ټول معلومات محاسبه د کاروبار داخلي او خارجي علاقه مندانو ته د پریکړو په خاطر وړاندې کوي.

## د محاسبې تاریخچه

محاسبه ډیر لرغونی تاریخچه لري د محاسبې ځینې نښې نښانې د تاریخ پوهانو لخوا په لرغوني مصر او بین النهرین کې موندل شوي دي چې دا د محاسبې په لرغونتوب باندې دلالت کوي.

د مصر په لرغوني مدنیت کې ښکاریان، کروندګر، مالداران او باغوانان موجود وو او دوی د خپلو فعالیتونو په ترڅ کې چې کوم عواید لاسته راوړل د هغې یوه برخه یې دولت ته د مالیاتو په شکل ورکول تر څو دولت پرې خپل ټول لګښتونه ترسره کړي نو ددې مالیاتو د دقیق سنجش لپاره محاسب (Accountant) موجود وو نو ځکه مونږ. وایو چې محاسبه لرغونی مسلک دی.

د 14 او 16 م پیړی ترمنځ په ایټالیا کې د محاسبې په اړه دوه مهم پرمختګونه رامنځ ته شول:

لومړی: په کاروبارونو کې د مالي راکړو ورکړو د ثبت په خاطر د رومي اعداو ,(XXXVIII=38) (XXXVII=37) پر ځای عربي اعداد وکارول شول (0,1,2,3,4,5,6,7,8,9) دا ځکه چې د رومي اعدادو لیکل او محاسبه کول ډیر ستونزمن کار و خو عربي اعداد هم په آسانی سره لیکل کیږي او هم محاسبه کیږي.

دوهم: لوکا پاسیولي (Lucca Pacioli) لخوا د ثبت دوه اړخیز سیستم (Double Entry System) رامنځ ته شو او په دغه سیستم کې د یوې مالي راکړې ورکړې دواړه خواوې Debit او Credit په ثبت رسیږي. نوموړي یو شمیر اصطلاحات هم معرفي کړل لکه ژورنال (Journal)، لیجر (Ledger)، ډیبیټ (Debit) او کریډیټ (Credit) او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محاسبې تعریفونه

محاسبه د کاروبار ژبې ته ویل کیږي اومالي محاسبه هغه معلوماتي سیستم دی چې د یو تصدی یا ادارې او یا هم د یو سازمان په اړه مالي معلومات راټولوي او تر پروسس (تحلیل، اندازه ګیري، او ثبت) کولو وروسته یې د تصدی داخلي او باندینی مینوالو ته یې وړاندې کوي.

مالي محاسبه یو معلوماتي سیستم دی چې د هغه څخه په استفادې د یو اقتصادي واحد د یوې ټاکلي دورې د اقتصادي راکړې ورکړې په هکله مالي معلومات راټول او تر پروسس کولو وروسته د مالي راپورونو په شکل د تصدی داخلي او بهرنی مینوالو ته وړاندې کیږي.

محاسبه له قانون او اصولو سره سم یوه پروسه ده چې د یو کاروبار اړوند ټولې مالي راکړې ورکړې لومړی په ګوته بیایې اندازه، ثبت، ډلبندي، خلاصه، تحلیل، تجزیه او بلآخره یې د کاروبار له داخلي او باندینی علاقه مندانو سره یې د پریکړو په خاطر شریکوي.

## د محاسبې موخې (Objectives of accounting)

محاسبه لاندې موخې لري

- په منظمه توګه د مالي راکړو ورکړو ثبتول
- د یو کاروبار د پایلو (ګټه او تاوان) معلومول
- د یو کاروبار د مالي حالت معلومول
- د یو کاروبار د نغده جریان (Cash Flow) په هکله معلومات وړاندې کول
- د کاروبار په هکله په پریکړو کې مرسته کول

## د محاسبې دندې (Functions of accounting)

محاسبه لاندې دندې لري:

- د مالي راکړو ورکړو ثبتول
- د مالي صورت حسابونو یا مالي راپورونو ترتیبول
- د پایلو شریکول
- د حقوقي اړتیاوو پوره کول او داسې نور...

## د محاسبې مینوال

د محاسبوي معلوماتو مینوال په دوو ګروپونو ویشل کیږي:

- داخلي مینوال
- بهرني مینوال

**داخلي مینوال :-** دا هغه اشخاص دي چې مستقیماً د تصدی یا کاروبار د مدیریتي چارو د پرمخ وړلو مسئولیتونه ورپه غاړه دي لکه د منځنی او ټیټې سطحې مدیران.

**بهرني مینوال :-** دا هغه سازمانونه او انفرادي اشخاص دي چې مستقیماً د تصدی یا کاروبار په مدیریتي چارو کې ښکیل ندي خو د کاروبار د نتایجو نه په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول متاثره کیږي لکه د تصدی شریکان، پور لرونکي، دولتي ارګانونه، مشتریان او عوام خلک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب ساتنه (Book Keeping)

د کتاب ساتني (Book Keeping) معنی :

د محاسبې په پروسه کې 7 مراحل شامل دي چې دغه مراحل عبارت دي له :

Accounting (1–7) / Book Keeping (1–4)

1. د مالي راکړو ورکړو په ګوته کول (Identifying)
2. د مالي راکړو ورکړو اندازه کول (Measuring)
3. د مالي راکړو ورکړو ثبتول (Recording)
4. د مالي راکړو ورکړو ډلبندي کول (Classifying)
5. د مالي راکړو ورکړو خلاصه کول او د مالي راپورونو ترتیبول (Summarizing)
6. د مالي راپورونو تحلیل او تجزیه (Analysis and interpreting)
7. د پایلو شریکول (Communicating of results)

کتاب ساتنه (Book Keeping) د محاسبې (Accounting) یوه برخه ده، او د محاسبې لومړنیو څلورو مرحلو (د مالي راکړو ورکړو پیژندنه، اندازه کول، ثبتول او ډلبندي کول) ته کتاب ساتنه یا Book Keeping وایي. په محاسبه کې چې کوم اصول، مقررات او معیارونه په نظر کې نیول کیږي هغه په کتاب ساتنه کې هم په نظر کې نیول کیږي او هر هغه څوک چې دغه دنده سرته رسوي کتاب ساتونکی یا Book Keeper بلل کیږي.

### د کتاب ساتني تعریفونه

- کتاب ساتنه د محاسبې یوه برخه ده او په منظمه توګه د مالي راکړو ورکړو د ثبت له هنر څخه عبارت دی.
- کتابداري له هغه علم او هنر څخه عبارت دی چې د یو کاروبار یا شرکت اړوند ټولې مالي راکړې ورکړې په منظم ډول په ځانګړو کتابونو کې ثبتوي.

### مالي راکړې ورکړې (Transactions)

مالي راکړه ورکړه هغه اقتصادي معاملې ته ویل کیږی چې کاروبار یې په مقابل کې یا پیسې ترلاسه کوي او یا یې په مقابل کې پیسې د لاسه ورکوي.مثلاً کاروبار خپل تولیدات پلورلي دي او په مقابل کې یې پیسې ترلاسه کړي دي، همدارنګه کاروبار خپلو کارمندانو ته معاشونه ورکړي او په مقابل کې یې پیسې د لاسه ورکړي دي نو دا ټول مالي راکړې ورکړې (Transactions) دي.

### کاروبار(Business)

ټول هغه قانوني فعالیتونه چې د ګټې د لاسته راوړلو په موخه یې یو کس د شغل او پیشې په ډول په دوامداره توګه سرته رسوي د بزنس یا کاروبار په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کاروبار ډولونه

کاروبار لاندي دري ډولونه لري:

- ❖ د يواځينی ملکيت کاروبار (Sole Proprietorship)
- ❖ د شراکت کاروبار (Partnership)
- ❖ سهامي شرکت يا کمپني (Corporation)

## د يواځينی ملکيت کاروبار (Sole proprietorship)

د کاروبار دا ډول ډير پخوانی او ساده دی، پدې ډول کاروبار کې ټوله سرمايه د يو کس لخوا کاروبار ته راوړل کيږي او يواځې همدا يو کس د ټول کاروبار مالک وي او که هر څومره ګټه کاروبار ته راځي همدا شخص يې مستحق دی او که تاوان کوي نو همدا شخص به يې ګالي. همدارنګه ددې شخص د پور د ادا کولو مسئوليت لامحدود دی. دا کاروبار لاندې ګټې او تاوانونه لري:

**ګټې**

- د کاروبار مالک کولای شي چې په آسانی سره دا ډول کاروبار رامنځ ته کړي او يا يې له منځه يوسي. ځکه چې دا ډول کاروبار ډير ساده دی.
- د کاروبار مالک په تصميم نيولو کې خپلواک دی.
- ټوله ګټه يواځې همدا يو کس ترلاسه کوي.
- د سهامي شرکت په څير ماليه پرې دوه ځلي نه راځي.

**تاوانونه**

- د پور د ادا کولو لا محدود مسئوليت.
- دا چې د کاروبار مالک يواځې همدا يو نفر وي نو د سهامي شرکت په پرتله يې پانګه هم کمه وي.
- دا چې د کاروبار مالک يواځې همدا يو کس وي نو په مديريت کې يې هم ستونزې موجودې وي.
- د سهامي شرکت په پرتله يې موده کمه وي او کيدای شي چې ډير ژر له منځه لاړشي.
- دا چې ددې کاروبار پانګه کمه وي نو د پراختيا لپاره يې فرصتونه هم کم وي.

## د شراکت کاروبار (Partnership)

دا د کاروبار هغه شکل دی چې په هغې کې دوه يا له دوو څخه زيات اشخاص د يو ليکلي يا شفاهي قرارداد په اساس خپلې پانګې د کاروبار لپاره شريکوي پدې شرط چې ګټه او تاوان به هم د شريکانو ترمنځ په مساوي ډول ويشل کيږي. خو په شراکت کاروبار کې ګټه او تاوان بيا د شريکانو ترمنځ د هغه نسبت (Ratio) په اساس ويشل کيږي چې په قرارداد کې ذکر شوی وي. شراکت په دوه ډوله ده:

- ❖ عمومي شراکت يا General Partnership : پدې ډول شراکت کې د شريکانو د پور د ادا کولو مسئوليت لا محدود وي،
- ❖ محدود شراکت يا Limited Partnership : پدې ډول شراکت کې د شريکانو د پور د ادا کولو مسئوليت محدود وي خو بايد حد اقل يو شريک داسې وي چې د هغې د پور د ادا کولو مسئوليت لا محدود وي. دا کاروبار هم لاندې ګټې او تاوانونه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګټې**

- دا چې د شریکانو شمیر یې زیات وي نو پانګه یې هم زیات وي.
- له بانکونو څخه په آسانی سره پور ترلاسه کولای شي.
- د زیات شمیر شریکانو په درلودلو سره کاروبار په ښه ډول مدیریت کیږي.
- مالیه ورڅخه یو ځل اخیستل کیږي.
- د ټولو شریکانو له لورې په ګډه سره تصمیم نیول.

**تاوانونه**

- د عمومي ځینو شریکانو د پور د ادا کولو لا محدود مسئولیت.
- د سهامي شرکت په پرتله یې موده کمه وي او د یو شریک په مړینې سره شرکت له منځه ځي.
- د شریکانو ترمنځ شخړې او د نظریاتو نه همغږي.
- د شرکت څخه د خپلې سرمایې په بیرته ایستلو کې ستونزه.
- دا چې شریکان په ګډه سره کارکوي نو که یو شریک خپل مسئولیت په سمه توګه ادا نکړي نو ټول شریکان ترې متضرره کیږي.

## سهامي شرکت یا کمپني (Corporation)

د کاروبار هغه شکل ته ویل کیږي چې د قانون په رڼا کې د حکمي شخص حیثیت لري او د کاروبار مالکان جدا او کاروبار جدا وي. دا ډول کاروبار کولای شي چې د یو حقیقي شخص په څیر په خپل نوم سره د مختلفو مالي ادارو او نورو کاروباري ډلو سره کاروباري معاملات او قراردادونه ترسره کړي لکه د پوررونو اخیستل او ورکول همدارنګه د شتمنیو اخیستل او خرڅول او داسې نور...د سهامي شرکت پانګه د سهم لرونکو له لورې د سهمونو (Shares) په اخیستلو کاروبار ته راوړل کیږي او بیا د کاروبار د مدیره هیئت (Board of directors) له لوري پرمخ وړل کیږي. دغه مدیره هیئت د سهم لرونکو له لورې ټاکل کیږي او د ټولو سهم لرونکو د پور د ادا کولو مسئولیت محدود دی. دا ډول کاروبار هم ګټې او تاوانونه لري.

**ګټې**

- د سهامي شرکت د سهم لرونکو د پور د ادا کولو مسئولیت محدود دی.
- هر سهم لرونکی کولای شي چې په اسانی سره خپله ونډه یا ملکیت د سهمونو د خرڅلاو له لارې په بل چا وپلوري او هغې ته یې انتقال کړي.
- سهامي شرکت ډیره اوږده موده لري او د شرکت په څیر د یو سهم لرونکي په مړینې سره کاروبار له منځه نه ځي.
- د یواځینی ملکیت او شرکت په پرتله یې پانګه ډیره زیاته ده.
- په آسانی سره کولای شي چې زیات مقدار پانګه د پور په شکل ترلاسه کړي.
- د مارکیټینګ، منجمنټ، مالي مدیریت، او یو شمیر نورو ډیپارټمنټونو په درلودلو سره د سهامي شرکت مدیریت ډیر ښه وي.
- د یواځینی ملکیت او شرکت په پرتله یې ګټه ډیره زیاته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تاوانونه**

- د سهامي شرکت تاسيس کول ډير قانوني مراحل غواړي ، ډيرې ستونزې لري او ډيرې پيسې پرې مصرفيږي.
- دوه ځله ماليه پرې راځي، چې يو ته يې د شرکت ماليه (Corporate tax) وايي او بل ته يې د عايد ماليه (Income tax) وايي.
- مديره هيئت پکې اکثره وخت د خپلو ګټو په خاطر د سهم لرونکو ګټې له پامه غورځوي.

## د مالي راپورونو عناصر

مالي راپورونه پنځه عناصر لري چې عبارت دي له:

**شتمني يا Assets:**

ټول هغه مادي او غير اجناس ، حقوقي امتيازات، او مالي غوښتنې چې د يوه اقتصادي واحد حقوقي ملکيت کې قرار لري او په توليدي فعاليتونو کې ورڅخه استفاده کيږي شتمني (Asset) بلل کيږي.

د محاسبې له نظره شتمني په دوه برخو ويشل شوی:

- ثابته شتمني يا Fixed Assets
- جاري شتمني يا Current Assets

**ثابته شتمني :-** هغه شتمني ده چې د يو کال نه د زياتې مودې لپاره د تصدی د توليدي فعاليت لپاره کارول کيږي لکه تعمير، ماشين آلات، د دفتر تجهزات، د سهم اسناد، ترانسپورتي وسايل او داسې نور... يا په بل عبارت ثابته شتمني هغه شتمني ده چې مونږ يې نشو کولای چې د يو کال په جريان کې په نقده بدل کړو.

**جاري شتمني :-** هغه شتمني ده چې د تصدی د توليدي فعاليت لپاره کارول کيږي خو د يو کال نه کم وخت کې د توليدي فعاليت په اساس له مينځه ځي او يا هم په نقده بدليږي لکه اومه مواد، تجارتي اموال، طلبات، بانکي دارايي، نقده او داسې نور... يا په بل عبارت جاري شتمني هغه شتمني ده چې مونږ يې کولای شو چې په آسانی سره د يو کال په جريان کې په نقده بدله کړو.

**خپلنی پانګه (Owner equity):**

هغه پانګې ته ويل کيږی چې د تصدی د مالک يا د شريکانو لخوا د توليدي اهدافو په منظور تهيه کيږي يا هغه مالي منابعو ته ويل کيږي چې د يو کاروبار د مالک لخوا برابريږي. خپلنی پانګې ته په سهامي او شراکت کاروبار کې Stockholders' Equity هم وايي او د لاندې رابطې پواسطه ښودل کيږي.

Stockholders' equity = Contributed Capital + Retained Earnings

**Retained Earnings** نا توزيع شوې ګټې ته وايي يعني کاروبار د مالي دورې په جريان کې ګټه کړي وي خو دا ګټه د کاروبار مالک يا شريکانو نه وي اخيستی بلکې بيرته يې د کاروبار د تمويلولو لپاره ايښې وي، او **Contributed Capital** همدا د شريکانو لخوا راټول شوې پانګې ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پردی پانګه (Liability):**

د تصدی د شتمنیو په مقابل کې د پردي خلکو مالي حقوق د پردی پانګې په نوم یادیږي، یا په ساده اصطلاح هغه پانګه یا مالي منابعو ته ویل کیږي چې د کاروبار مالک یې د بل چا څخه د کاروبار لپاره قرض کوي چې دیته پور (قرض) وایي. په کاروبار باندې چې څومره قرضه وي یا کاروبار اجناس او خدمات په قرضو اخیستی وي دا ټول په Liabilities کې راځي.

**عاید (Revenue):**

عاید د بدلې یا معاوضې هغه مقدار دی چې یو شخص یې د یو خدمت او یا د خپل ملکیت د خدمت په مقابل کې ترلاسه کوي. خلک د مختلفو سرچینو (کرایه، سود، مزد او ګټې) څخه عاید ترلاسه کوي.

**مصرف (Expense):**

د پیسو هغه مقدار دی چې په کاروبار کې د ورځنیو فعالیتونو د سرته رسولو لپاره مصرفیږي. یعني د کاروبار لپاره چې کوم مقدار پیسې مصرفیږي دا ټول په مصارفو کې راځي لکه د دفتر لپاره قرطاسیه، د تجهیزاتو خریداري، د تعمیر کرایه، د ترانسپورټ مصارف، مزد او معاش، دا او دیته ورته نور ټول غټ او واړه مصارف په Expense کې ثبت کیږي.

**د محاسبې مساوات (Accounting Equation)**

Assets = Owner equity + Liability,      (A = OE +L)

شمتني = خپلنی پانګه + پردی پانګه

دا اړیکه د محاسبې د معادلې په نوم یادیږي. پدې معادله کې درې شیان ( Asset, Liability, Owner equity ) تر بحث لاندې نیول کیږي. که کمیشن دی، که عاید دی، که تخفیف دی، که فروشات دي دا ټول ددې معادلې یوې برخې پورې حتمن تړلي دي.

**مثالونه**

**معاملات (Transactions):**

د 1399 ه ش کال د حمل د میاشتې په لومړۍ نیټه د الکوزی په نوم یو تجارتي تصدی په 800000 افغانی نقده شتمني سره په لاندې ډول په تجارتي فعالیت پیل وکړ:

- د حمل د میاشتې په 3 نیټه د 300000 افغانیو په ارزښت تجارتي توکي په نقده ډول پیرودل شوي دي.
- د حمل د میاشتې په 9 نیټه د 200000 افغانیو په ارزښت تجارتي توکي پیرودل شوي چې قیمت یې درې میاشتې وروسته د تادیې وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د حمل د میاشتې په 17 نېټه هغه تجارتي توکي چې په 300000 افغانیو پیرودل شوي وه په 350000 افغانیو نقداً پلورل شوي دي.
- د حمل د میاشتې په 20 نېټه هغه تجارتي توکي چې په 200000 افغانیو پیرودل شوی وه په 250000 افغانیو پلورل شوي دي.
- د حمل د میاشتې په 25 نېټه د 200000 افغانیو په ارزښت تجارتي توکي پیرودل شوي دي چې قیمت یې 50% نقداً تادیه شوی او پاتې 50% یې درې میاشتې وروسته د تادیې وړ دی.

**په لاندې جدول کې (Beginning Balance (Bb ته وایي وایي که د کاروبار د شروع لپاره مونږ سره خپلنی پانګه د مخکې نه موجود وي نو هغه بیا په (Bb) کې درج کوو، خو که مونږ سره خپلنی پانګه د مخکې نه نه وي موجود نو بیا (Bb) کې صفر درج کوو.**

**په پورته مثال کې د شتمني په برخه کې مونږ سره نغده (Cash) شامل دی ځکه چې نغدې پیسې زمونږ جاري شتمني ده ددې تر څنګ خام مواد یا تجارتي اموال هم زمونږ جاري شتمني ده ځکه چې مونږ یې په لنډ وخت کې په نغدو بدلوو همدارنګه فروشات چې کله کوو نو ګټه ورڅخه لاسته راځي او دا ګټه د نغدو پیسو په شکل لاسته راځي نو ځکه داهم مونږ د شتمنیو لاندې لیکو او په لاندې توګه عمل کوو. Account Payable: دا Liability ده یعني مونږ ته دا راښایي چې کاروبار څومره قرضدار دی.**

**او مونږ یې د لنډیز لپاره A/P لیکو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Alokozay Company

## (1/1/1399)

## Accounting Equation

| NO | Assets | | | = | Owner Equity + Liability | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | Cash | Merchandise | Sales | | OE | Bank Loan | Account Payable |
| Bb | 800000 Af | 0 | 0 | | 800000 Af | 0 | 0 |
| 1 | -300000 Af | +300000 Af | 0 | | 0 | 0 | 0 |
| Balance | 500000 Af | 300000 Af | 0 | | 800000 Af | 0 | 0 |
| 2 | 0 | +200000 Af | 0 | | 0 | 0 | +200000 Af |
| Balance | 500000 Af | 500000 Af | 0 | | 800000 Af | 0 | 200000 Af |
| 3 | +350000 Af | -300000 Af | 0 | | +50000 Af | 0 | 0 |
| Balance | 850000 Af | 200000 Af | 0 | | 850000 Af | 0 | 200000 Af |
| 4 | 0 | -200000 Af | +250000 Af | | +50000 Af | 0 | 0 |
| Balance | 850000 Af | 0 | 250000 Af | | 900000 Af | 0 | 200000 Af |
| 5 | -100000 Af | +200000 Af | 0 | | 0 | 0 | +100000 Af |
| Balance | 750000 Af | 200000 Af | 250000 Af | | 900000 Af | 0 | 300000 Af |
| 750000+200000+250000 = 1200000 Af | | | | = | 900000+300000 = 1200000 | | |
| 1200000 | | | | = | 1200000 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم مثال :**

## معاملات (Transactions)

د 1395 ه ش کال د حوت د میاشتې په دوهمه نیټه د تورغر ترانسپورت په نامه یو تجارتي شرکت جوړ او په لاندې ډول سره یې ترانسپورتي فعالیت پیل کړ:

- د حوت د میاشتې په 3 نیټه 600000 افغانی د ترانسپورت د مالک لخوا د خپلنی پانګې په توګه د کاروبار لپاره شرکت ته تادیه شوي دي.
- د حوت د میاشتې په 4 نیټه یو ترانسپورتي موټر د 400000 افغانیو په ارزښت پیرودل شوی ده چې قیمت یې %50 نقداً تادیه شوی دی او پاتې یې پر شرکت پور پاتې.
- د حوت د میاشتې په 10 نیټه د 20000 افغانیو په ارزښت د شرکت ترانسپورتي موټر لپاره تیل په نقده ډول خریداري شوی دی.
- د حوت د میاشتې په 12 نیټه 10000 افغانی د حوت د میاشتې د کرایې لپاره نقداً تادیه شوی دی.
- د حوت د میاشتې په 20 نیټه د شرکت د ترانسپورتي خدماتو له لارې 90000 افغانی نقده عاید ترلاسه شوی دی.
- د حوت د میاشتې په 25 نیټه د 60000 افغانیو په ارزښت د شرکت د دفتر لپاره دوه پایي کمپیوټر په نقده ډول پیرودل شوی دی.
- د حوت د میاشتې په 27 نیټه 100000 افغانی د ترانسپورتي موټرد پور لپاره نقداً تادیه شوی دی.

**د Assets لاندې چې مونږ سره (Cash, Vehicle, Oil, Computer) لیکل شوی دا ټول مونږ ته جاري او ثابته شتمني ښایي او دا مونږ د پورتني (Transaction) نه لیکو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Tor-ghar Transport Company

## Accounting Equation

## 2/12/1399

| NO | Assets | | | | = | Owner equity + Liability | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | Cash | Vehicle | Oil | Computer | | OC | Account Payable |
| Bb | 0 | 0 | 0 | 0 | | 0 | 0 |
| 1 | +600000 Af | 0 | 0 | 0 | | +600000 Af | 0 |
| Balance | 600000 Af | 0 | 0 | 0 | | 600000 Af | 0 |
| 2 | -200000 Af | +400000 Af | 0 | 0 | | 0 | +200000 Af |
| Balance | 400000 Af | 400000 Af | 0 | 0 | | 600000 Af | 200000 Af |
| 3 | -20000 Af | 0 | +20000 Af | 0 | | 0 | 0 |
| Balance | 380000 Af | 400000 Af | 20000 Af | 0 | | 600000 Af | 200000 Af |
| 4 | -10000 Af | 0 | 0 | 0 | | -10000 Af | 0 |
| Balance | 370000 Af | 400000 Af | 20000 Af | 0 | | 590000 Af | 200000 Af |
| 5 | +90000 Af | 0 | 0 | 0 | | +90000 Af | 0 |
| Balance | 460000 Af | 400000 Af | 20000 Af | 0 | | 680000 Af | 200000 Af |
| 6 | -60000 Af | 0 | 0 | +60000 Af | | 0 | 0 |
| Balance | 400000 Af | 400000 Af | 20000 Af | 60000 Af | | 680000 Af | 200000 Af |
| 7 | -100000 Af | 0 | 0 | 0 | | 0 | -100000 Af |
| Balance | 300000 Af | 400000 Af | 20000 Af | 60000 Af | | 680000 Af | 100000 Af |
| Total | 300000+400000+20000+60000 = 780000 Af | | | | = | 680000+100000 = 780000 Af | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم مثال :**

## معاملات (Transactions)

د 1400 ه ش کال د حمل د میاشتې په لومړی نیټه د حمیدي په نامه یوه انفرادي تصدی جوړه او د 500000 افغانی خپلنی پانګې په لرلو سره یې په تجارتي فعالیت پیل وکړ :

- د حمل د میاشتې په 3 نیټه د 200000 افغانیو په ارزښت د لومړني شرکت څخه تجارتي اموال په نقده ډول خریداري شوي دي.
- د حمل د میاشتې په 12 نیټه د لومړني شرکت نه بیا د 100000 افغانیو په ارزښت تجارتي توکي خریداري شوي دي چې قیمت یې دوه میاشتې وروسته د تادیې وړ دی.
- د حمل د میاشتې په 8 نیټه د 250000 افغانیو په ارزښت په دوهمي شرکت تجارتي اموال پلورل شوي دي.
- د حمل د میاشتې په 20 نیټه د 120000 افغانیو په ارزښت تجارتي توکي په دوهمي شرکت پلورل شوي دي چې قیمت یې دوه میاشتې وروسته د تادیې وړ دي.
- د حمل د میاشتې په 30 نیټه 10000 افغانی د دوکان د کرایې لپاره نقداً تادیه شوی دی.

**طلبات (Account Receivable) A/R:**

**هغه مقدار پیسو ته وایي چې د کاروبار لخوا خلکو ته قرض ورکړل شوي وي یعنی خلک د تصدی یا کاروبار نه قرضدار وي او دا زمونږ جاري شتمني ده. او مونږ یې د لنډیز لپاره A/R لیکو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Hameedi Company**

**Accounting Equation**

**1/1/1400**

| NO | Assets | | | | = | Owner Equity + Liability | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | Cash | Merchandise | Account Receivable | Sales | | OC | Account Payable |
| Bb | 500000 Af | 0 | 0 | 0 | | 500000 Af | 0 |
| 1 | -200000 Af | +200000 Af | 0 | 0 | | 0 | 0 |
| Balance | 300000 Af | 200000 Af | 0 | 0 | | 500000 Af | 0 |
| 2 | 0 | +100000 Af | 0 | 0 | | 0 | +100000 Af |
| Balance | 300000 Af | 300000 Af | 0 | 0 | | 500000 Af | 100000 Af |
| 3 | 0 | -200000 Af | 0 | +250000 Af | | +50000 Af | 0 |
| Balance | 300000 Af | 100000 Af | 0 | 250000 Af | | 550000 Af | 100000 Af |
| 4 | 0 | -100000 Af | +120000 Af | 0 | | +20000 Af | 0 |
| Balance | 300000 Af | 0 | 120000 Af | 250000 Af | | 570000 Af | 100000 Af |
| 5 | -10000 Af | 0 | 0 | 0 | | -10000 Af | 0 |
| Balance | 290000 Af | 0 | 120000 Af | 250000 Af | | 560000 Af | 100000 Af |
| Total | 290000+120000+250000 = 660000 Af | | | | = | 560000+100000 = 660000 Af | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډیبیټ او کریډیټ مفهوم (Debit & Credit)

د ثبت دوه اړخیز سیستم (Double Entry System) د لومړي ځل لپاره د یو شخص (Lucca Pacioli) لخوا معرفي شو. نوموړی په 1914 م کال کې د Financial Accounting لومړنی کتاب لیکلی او د محاسبې د علم د پلار لقب ورکړل شوی دی.

د Debit کلیمه د لاتیني کلیمې Debitum نه اخیستل شوی او د Credit کلیمه هم د لاتیني کلیمې Creditum نه اخیستل شوی. د محاسبې د مساواتو چپ طرف ته Debit وایي او ښي طرف ته یې Credit وایي. د Debit او Credit لپاره لاندې پنځه قواعد په مالي محاسبه کې رامنځ ته شوي دي:

- Increase in Asset is Dr
  Decrease in Asset is Cr
- Increase in Liability is Cr
  Decrease in Liability is Dr
- Increase in Capital is Cr
  Decrease in Capital is Dr
- Increase in Revenue is Cr
  Decrease in Revenue is Dr
- Increase in Expense is Dr
  Decrease in Expense is Cr

Dr: Debit record

Cr: Credit record

زمونږ اکثره محصلین دا قواعد همداسې میخانیک زده کړي دي چې په شتمنیو کې زیاتوالی Debit کیږي او کموالی Credit کیږي خو که ورته پوښتنه وشي چې ولې ډیبیټ کیږي یا کریډیټ کیږي نو صرف همدومره وایي چې دا قاعده ده او بس.

خو دا ځواب بسنه نه کوي تاسي باید پدې ځان پوه کړئ چې دغه قاعده له کوم ځای نه رامنځ ته شوې ده. ددې لپاره راځو په یوه آسان میتود باندې بحث کوو:

Asset = Liability + Owner equity

IAS - DAS = ICL - DCL

IAS + DCL = ICL + DAS

Dr Cr

**IAS: Increase in Asset (په شتمنی کې زیاتوالی)**

**DAS: Decrease in Asset (په شتمنی کې کموالی)**

**ICL: Increase in Claim (په Claim کې زیاتوالی)**

**DCL: Decrease in Claim (په Claim کې کموالی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

Liability او Owner equity دواړو ته Claim وايي يعني زمونږ په دارايي (Property) باندې دوه ډلې دعوه لري چې يو يې قرضداران دي او بل د کاروبار مالکين دي.

د Debit او Credit قواعد هم د همدې معادلې په اساس رامنځ ته شوي دي. که مونږ منفي ارقام د ښي نه چپ طرف ته واړوو او د چپ نه ښي طرف ته واړوو نو ټول ارقام مثبت کيږي. د مالي محاسبې د ډيبيټ او کريډيټ لپاره هغه پورته پنځه قواعد د همدې دوه ګروپونو (IAS + DCL = ICL + DAS) په اساس رامنځ ته شوي دي. لکه څنګه چې مو مخکې وويل Debit د محاسبې د مساواتو چپ طرف ته وايي نو په چپ طرف کې مونږ سره دوه شيان IAS او DCL موجود دی. د محاسبې د مساواتو ښي طرف ته Credit وايي او په ښي طرف کې هم دوه شيان ICL او DAS پروت دی.

- ❖ Increase in Asset is Dr
  Decrease in Asset is Cr

په لومړی قاعده کې مونږ وايو چې (Increase in Asset is Dr) يعني که چيرې زمونږ شتمني زياتيږي نو مونږ يې Debit کوو داځکه چې د شتمنی زياتوالی (IAS) د مساواتو چپ طرف يعني Debit برخه کې پروت دی نو پدې بنا يې ډيبيټ کوو. او په شتمنی کې کموالی (DAS) د مساواتو ښي طرف(Credit) برخه کې پروت دی نو پدې بنا که چيرې زمونږ په شمتنی کې کموالی راشي نو مونږ وايو چې دا کريډيټ کيږي.

- ❖ Increase in Liability is Cr
  Decrease in Liability is Dr

په دوهمه قاعده کې وايي چې د Liability زياتوالی Credit کيږي. Liability زمونږ Claim دی او په Claim کې زياتوالی (ICL) د مساواتو ښي طرف يعني Credit ګروپ کې پروت دی. نو پدې اساس مونږ د Liability زياتوالی Credit کوو. او د Liability کموالی (DCL) ځکه Debit کيږي چې د معادلې چپ طرف يا Debit برخه کې پروت دی.

- ❖ Increase in Capital is Cr
  Decrease in Capital is Dr

په دريم قاعده کې وايي چې د پانګې يا Capital زياتوالی Credit کيږي ځکه چې Capital خپله Owner equity ده يعني Claim دی او د Capital زياتوالی (ICL) د معادلې ښي طرف يعني کريډيټ برخه کې پروت دی نو پدې اساس د خپلنی پانګې زياتوالی مونږ Credit کوو. او د Capital کموالی مونږ ته د Claim کموالی(DCL) ښايي او د معادلې چپ طرف ته پروت دی نو ځکه د خپلنی پانګې کموالی Debit کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Increase in Revenue is Cr
  Decrease in Revenue is Dr

عواید چې کله زیاتیږي نو دا زمونږ خپلنی پانګې (Owner equity) سره جمع کیږي یعني زمونږ سرمایه ورسره زیاتیږي نو معلومه خبره ده چې زمونږ Claim هم زیاتیږي او که عواید کمیږي نو دا زمونږ سرمایه کموي یعني دا د خپلنی پانګې نه منفي کیږي نو زمونږ Claim کموي. نو په څلورمه قاعده کې وایي چې د عوایدو زیاتوالی Credit کیږي ځکه چې دا په حقیقت کې د Claim زیاتوالی (ICL) دی او د محاسبې د مساواتو ښي طرف یعني Credit برخه کې پروت دی نو پدې اساس د عوایدو زیاتوالی Credit کوو. او د عوایدو کموالی د Claim کموالی (DCL) مونږ ته ښایي او د معادلې چپ طرف ته پروت دی نو ځکه یې کموالی Debit کوو.

- Increase in Expense is Dr
  Decrease in Expense is Cr

مصارف د خپلنی پانګې (Owner equity) نه منفي کیږي او هر څومره چې په کاروبار کې مصارف زیاتیږي نو پانګه کموي یعني Claim ورسره کمیږي. همدارنګه که مصارف کمیږي نو زمونږ په Owner equity کې زیاتوالی راځي یعني زمونږ Claim زیاتیږي نو پدې اساس په پنځمه قاعده کې وایی چې د مصارفو زیاتوالی Debit کیږي ځکه چې د مصارفو زیاتوالی (DCL) د معادلې چپ طرف یعني Debit ګروپ کې پروت دی نو ځکه یې ډیبیټ کوو. او د مصارفو کموالی ځکه Debit کیږي چې دا د مصارفو کموالی (ICL) د معادلې ښي طرف ته یعني د Credit برخه کې پروت دی نو پدې اساس یې Credit کوو.

اوس مونږ ته دا په ډاګه شوه چې مونږ په مطلق ډول نشو ویلی چې Debit د زیاتیدو په معنی دی او Credit د کمیدو په معنی دی بلکې داسې ویلی شو چې د Asset او Expense لپاره Debit د زیاتیدو په معنی دی او Credit د کمیدو په معنی دی. او د Revenue ، Liability او Capital لپاره Debit د کمیدو په معنی دی او Credit د زیاتیدو په معنی دی.

**د لا ښه پوهیدو لپاره لاندې ډیاګرامونو ته مراجعه وکړئ:**

خو د هر څه نه مخکې باید تاسې دا په یاد ولرئ چې د مساواتو چپ طرف Debit دی او ښي طرف Credit دی. که چیرې لاندې هر یو عنصر معادله په نظر کې ونیسو نو داسې لیکو چې:

**دلته (+) د زیاتوالي په معنی دی او (-) د کموالي په معنی دی.**

| Asset | | = | Liability | | + | Capital | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Dr | Cr | | Dr | Cr | | Dr | Cr |
| + | - | | - | + | | - | + |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Revenue | |
|---|---|
| Dr | Cr |
| - | + |

| Expense | |
|---|---|
| Dr | Cr |
| + | - |

**Retained earnings:** هغه ګټه ده چې د کاروبار د فعالیتونو په نتیجه کې ترلاسه شوی وي او د کاروبار په شریکانو نه وي ویشل شوی یا مالک دغه ګټه د کاروبار نه نه وي ویستلی. چې د یواځینی ملکیت، شراکت او د سهامي شرکت کاروبارونه ځیني وختونه ددغي نا توزیع شوي ګټې نه د تمویل د منبع په توګه استفاده کوي. نو د **Retained earning** په زیاتیدلو سره د کاروبار سرمایه **(Owner equity)** زیاتیږي یعني **Claim** زیاتیږي نو پدې اساس د **Retained earning** زیاتیدل **(ICL)** مونږ Credit کوو ځکه چې **(ICL)** د محاسبې د مساواتو ښي طرف ته پروت دی. او د **Retained Earning** کموالی **(DCL)** مونږ **Debit** کوو ځکه چې ددې په کموالي سره زمونږ په پانګه کې کموالی راځي.

**Dividends:** هغه ګټه ده چې د کاروبار مالک یا سهم لرونکو باندی ویشل شوي وي یعني کاروبار ګټه کړې وي او دغه ګټه بیا مالک یا سهم لرونکو ته ورکړل شوی هم وي. کله چې ګټه په کاروبار کې موجود وي او لا نه وي توزیع شوی نو ورسره زمونږ سرمایه زیاته **(ICL)** وي او کله چې **Dividend** زیاتیږي یعني ګټې توزیع کیږي نو په سرمایه کې کموالی **(DCL)** رامنځ ته کیږي. نو پدې اساس مونږ وایو چې د **Dividend** زیاتوالی **(DCL)** مونږ **Debit** کوو او د **Dividend** کموالی **(ICL)** مونږ **Credit** کوو.

| Retained Earnings | |
|---|---|
| Dr | Cr |
| - | + |

| Dividends | |
|---|---|
| Dr | Cr |
| + | - |

### Journal (روزنامچه) ژورنال

ژورنال یا روزنامچه داسي یو کتاب دی چې کاروبارونه یې له ځانه سره ساتي تر څو یکي خپل ورځنی مالي معاملات درج (ثبت) کړي. په ژورنال کې یواځې مالي معاملات ثبت کیږي. هره مالي معامله په ژورنال کې د (Double Entry System) یا د ثبت دوه اړخیز سیستم پر بنا د Debit او Credit د قواعدو په اساس ثبت کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ژورنال بیلګه:**

**Journal** **100**

| Date | Particulars | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| Year<br>Month/Day | XXX A/C ……………Dr<br>To XXX A/C<br>(Narration) | | XXX… | XXX… |
| | | | Total XXX… | Total XXX… |

لومړنی کالم مونږ ته د معاملې نیټه (Date) ښایي. یعني دغه معامله چې مونږ یې په ژورنال کې ثبت کوو په کومه نیټه ترسره شوی او دا کار ددې لپاره کوو چې که د کاروبار مالک یا کوم بل څوک ددې معاملې په هکله کوم شک لري یا غواړي چې ددې معاملې په هکله پوره معلومات ترلاسه کړي نو په آسانی سره یې پیدا کولی شي. او کله چې یوه معامله په ژورنال کې ثبت کوو نوپه ترتیب سره لومړی کال بیا میاشت او بیا ورځ لیکو.

دوهم کالم مونږ ته دا راښایي چې ددې اقتصادي معاملې په ترڅ کې کوم حسابونه متأثره شوي دي. یو Transaction چې کله مونږ په صحیح طریقې سره ثبت کړو نو بیا راځو د (Narration) په برخه کې د هغې په هکله لنډه تشریح لیکو، کوم حساب چې Debit کیږي هغه لومړی لیکو او ورپسې هغه حساب چې Credit کیږي هغه دوهم لیکو او بیا تشریح په دریم قدم کې لیکو. او دا تشریح ددې لپاره لیکو چې لوستونکي ته نور هم آسانه شي او د Transaction په هکله پوره معلومات ترلاسه کړي.

په دریم کالم کې (L.F(Ledger Folio موجود دی. Ledger Folio د لیجرحساب شمیره یا د لیجرد صفحې شمیره مونږ ته ښایي خو په Ledger Folio کې تاسې کولای شئ چې د (Transaction) شمیره هم ولیکئ. کله چې لیجر حساب تاسې ولوست بیا ددې په مفهوم تاسې ډیر ښه پوهیږئ.

څلورم کالم مونږ ته د هغه مقدار (Amount) په هکله معلومات راکوي چې هغه مونږ Debit کړی او پنځم کالم مونږ ته د هغه مقدار په هکله څرګندونه کوي چې هغه Credit شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ژورنال کې د مالي راکړو ورکړو د ثبت کولو طریقه

**تر هر څه د مخه باید دا په یاد ولرئ چې په ژورنال کې لومړی هغه حساب درج کوو کوم چې Debit شوی وي او وروسي هغه حساب لیکو کوم چې کریډیټ شوی وي.**

که چیرې خام مواد یا تجارتي اموال په نغدو خریداري شوی وي نو په ژورنال کې دا Transaction چې کله ثبت کوو نو د (Purchase A/C) په نوم یې ثبت کوو او ډیبیټ کوو یې ځکه چې (Purchase) کې خام مواد یا تجارتي اموال شامليږي او دا زمونږه شتمني ده او لکه څنګه چې مو مخکې ویلي وو په شتمنی کې زیاتوالی (IAS) مونږ د محاسبې د قانون مطابق Debit کوو، او د (Cash A/C) کریډیټ کوو ځکه چې دغه ټول شیان په نغدو اخیستل شوي دي یعني په شتمنی کې له بلې خوا کموالی راځي نو په شتمنی کې کموالی (DAS) مونږ کریډیټ کوو. که چیرې خام مواد، تجارتي اموال یا تولیدات په نغدو خرڅول شوي وي نو بیا دا Transaction چې کله ثبت کوو نو د (Sales A/C) په نوم یې درج کوو. کله چې فروشات په نغدو کیږي نو کاروبار عواید لاسته راوړي او ګټه کوي نو له یوې خوا خو نغده پیسې کاروبار ته په لاس ورځي نو د قانون مطابق لومړی د (Cash A/C) ډیبیټ کوو ځکه چې زمونږ په شتمنی کې زیاتوالی (IAS) راغی او له بلې خوا لکه څنګه چې مو وویل کاروبار د فروشاتو نه عواید لاسته راوړي او دغه عواید ددې باعث کیږي چې د کاروبار په پانګه (Claim) کې زیاتوالی راشي نو په پانګه کې زیاتوالی (ICL) مونږ کریډیټ کوو ځکه چې (ICL) د محاسبې د مساواتو ښي طرف کې پروت دی او ښي طرف کریډیټ دی او چپ طرف ډیبیټ دی. نو د (Sales A/C) کریډیټ کوو.

که چیرې داسې شوی وي چې دغه خام مواد یا تجارتي اموال په نغدو نه بلکې په قرضو خریداري شوی وي نو بیا دغه Transaction داسې ثبت کوو لومړی خو د (Purchase A/C) ډیبیټ کوو ځکه چې زمونږ په شتمنی کې زیاتوالی (IAS) راغی او دا ځکه اول لیکو چې دا Debit کیږي او وروسي د کوم شخص نه یا د کومې کمپنی نه چې دغه شیان مونږ په قرضو اخیستی د هغې خپل نوم لیکو مثلاً که دغه خام مواد یا تجارتي اموال مونږ د احمد نه په قرضو خریداري کړي وي نو داسې لیکو (Ahmad A/C) اوکه نوم یې نه وي ذکر شوی نو یوازې (Account Payable) لیکو او کریډیټ کوو یې ځکه چې په Liability کې زیاتوالی راځي او Liability زمونږ Claim دی او په Claim کې زیاتوالی (ICL) د محاسبې د قوانینو له مخې Credit کیږي. همدارنګه که دغه خام مواد او اجناس په نغدو نه بلکې په قرضو خرڅول شوی وي یعني مونږ فروشات په قرضو کړی وي نو بیا داسې Transaction پدې طریقه ثبت کوو. لومړی د هغه شخص یا کمپنی نوم لیکو په کوم چا باندې چې مونږ دغه شیان په قرضو خرڅ کړي لکه (Rashid A/C) او که ددې نوم هم نه وي ذکر شوی نو دلته (Account Receivable) لیکو او دا ځکه ډیبیټ کوو چې دا زمونږ طلبات دي او دا زمونږه شتمني ده یعني یوه ورځ حتمن دغه شخص زمونږه پیسې راکوي او پدې سره زمونږ په شتمنی کې زیاتوالی (IAS) راځي نو پدې اساس یې Debit کوو. او وروسي د (Sales A/C) لیکو ځکه چې که په قرضو وي او که په نغدو خو زمونږ په Sales یا فروشاتو کې زیاتوالی راځي او د فروشاتو په زیاتوالي سره زمونږ په پانګه (Claim) کې هم زیاتوالی (ICL) راځي نو د Sales Account کریډیټ کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چيرې د کاروبار مالک د کاروبار نه يا د کاروبار دبانکي حساب د خپل شخصي مصارفو لپاره پيسي وباسي ديته Drawings وايي او داسي Transaction پدې طريقه ليکو. لومړی د (Drawings A/C) ليکو او ډيبيټ کوو يې ځکه چې د کاروبار مالک چې کله د کاروبار نه پيسي وباسي نو د کاروبار په پانګه (Claim) کې کموالی (DCL) راځي نو پدې بنا وايو چې د Drawings حساب ډيبيټ کوو. ورپسي د Bank A/C) ليکو او هغه کريډيټ کوو ځکه چې په بانک کې چې د کاروبارکومې پيسي دي هغه د کاروبار شتمني ده او هر وخت کولای شي چې پيسي پکې اضافه کړي او يا ورڅخه پيسي وباسي نو په شتمنی کې کموالی (DAS) مونږ د محاسبې د قوانينو له مخې Credit کوو. اوس که چيرې داسي شوی وي چې د کاروبار مالک د خپل شخصي مصارفو لپاره نه بلکې د کاروبار لپاره يا د دفتر لپاره پيسي د بانکي حساب نه وباسي نو بيا لومړی د (Cash A/c) ليکو او ډيبيټ کوو يې ځکه چې ظاهراً په نغده کې زياتوالی (IAS) او راځي او د (Bank A/C) کريډيټ کوو ځکه چې له بلې خوا په شتمنی کې کموالی (DAS) راځي.

دا او ديته ورته نور ځيني مهم مسايل د ژورنال په اړه شته چې تاسي يې بايد په ياد ولرئ او په راتلونکو مثالونو کې به انشالله چې هر يو تاسي ته در وپيژندل شي.

اوس راځو د ژورنال ځيني مثالونه عملاً حل کوو او بيا په نوبت سره لومړی د Ledger حسابونه ترې جوړوو بيا Trial Balance ورپسي Income Statement او بيا يې Balance Sheet ته انتقالوو. خو د ژورنال لپاره چې کوم مثالونه تاسي ته درکول کيږي اکثره په انګليسي ژبه وي نو بهتره خبره داده چې د ژورنال او د مالي محاسبې د زده کړې لپاره بايد تاسي انګليسي هم يوه اندازه زده کړئ.

**لومړی مثال:** **Transactions**

1: On January 1st 2017 Javid Pvt.Ltd started business with cash 100000 Af.

2: On January 3rd He purchased a furniture for cash 20000 Af.

3: On January 6th He Purchased goods for cash 60000 Af.

4: On January 9th sold goods for cash 80000 Af.

5: On January 10th Paid salaries of employees 10000 Af.

6: On January 12th Paid rent of the building 5000 Af.

7: On January 14th Commission received 25000 Af.

8: On January 20th Purchased goods from Fawad on credit 35000 Af.

9: On January 27th Sold goods for cash 40000 Af.

10: On January 29th Paid cash to Fawad 30000 Af.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په لاندې مثالونو کې (Ledger folio (L.F تش پریدو ځکه چې فیلحال مونږ لیجر ندی جوړ کړی او د ژورنال نه وروسته چې کله لیجر مطالعه کړئ نو بیا به تاسي پدې مفهوم پوه شی.**

**Books of Javid Pvt.Ltd 100**

| Date | Particulars | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| 2017 | | | | |
| January 1st | Cash A/C ……………………..Dr | | 100000 Af | |
| | To Capital A/c | | | 100000 Af |
| | (Started business with Cash) | | | |
| January 3rd | Furniture A/C ……………………..Dr | | 20000 Af | |
| | To Cash A/C | | | 20000 Af |
| | (Purchased a furniture for cash) | | | |
| January 6th | Purchase A/C ……………………..Dr | | 60000 Af | |
